

# د ماشوم د مالي اعتبار (Child Tax Credit) لپاره عامې احتمالي پوښتنې

## .1 د ماشوم مالي اعتبار څه ته وايي او څوک کولای شي ادعا یې وکړي؟

د ماشوم مالي اعتبار یو امتیازي عاید دی چې د ټولو هغو والدینو لپاره د لاسرسي وړ دی چې ماشومان یې د ټولنیز امنیت شمېره ولري او وو لاندې 17 په پای کې د 2020 په پای کې و (د جنورۍ په 1، 2004 کې یا وروسته زیږیدلی). سږ کال د ماشوم مالي اعتبار د ډېرې کورنیو لپاره د لاسرسي وړ دی، لکه هغه کورنۍ چې پخوا یې په عائداتو باندې د مالیاتو په برخه کې دوسیه نه درلوده.

## .2 آیا زه به دغه پیسې بېرته تادیه کوم؟

په دې اړه ځینې محدودیتونه نافذ دي تر څو تاسې د دې پیسو د بېرته تادیې لپاره په هغه صورت کې اړ نه شئ که چېرې په 2021 کال کې مو عائدات له 40000$ ډالرو (60000$ ډالر د واده شوې جوړې لپاره حد او 50000 ډالر د کورنیو د سرپرستانو لپاره) کم وي. پرته له دې، که تاسې د هغه ماشوم لپاره پسې ترلاس کوئ چې نور یې تاسو سرپرستي نه کوئ یا ستاسو په عائداتو کې دپام وړ تغیر راغلی وي، اړ یاست چې ټولې یا یوه برخه د پیسو تادیه کړئ.

## .3 څنګه کولای شم د ماشوم د مالي اعتبار ترلاسه کړم او د دغو امتیازاتو د ادعا لپاره څه شي ته اړتیا لرم؟

که چېرې مو مخکې مالیات نه وي ورکړي یا مو مرستندویه چکونه نه وي ترلاسه کړي، کولای شئ د خپل ماشوم د مالي امتیازاتو لپاره په GetCTC.org کې چې د سپینې ماڼۍ او امریکا متحده ایالاتو د مالیې وزارت (Department of Treasury) په همکارۍ د Code for America له خوا د مالیاتو د تادیې لپاره یو ساده رامنځ ته شوی سیستم دی، ادعا وکړئ. له دغه سیسم څخه استفاده آسانه ده، لکه د مبایل له لارې استفاده، او دغه سیستم په انګلیسي او اسپانوي ژبو کې د لاسرسي وړ دی.

لاندې هغه موارد دي چې تاسو به ورته اړتیا ولرئ:

- ستاسو د ماشومانو لپاره د ټولنیز امنیت شمېرې او ستاسو (او ستاسې د ژوند د شریک لپاره) ټولنیزې امنیتي شمېرې یا د مالیاتو فردي تشخیصیه شمېره (ITIN)
- یو معتبر پوستي آدرس
- یو برېښنالیک
- انتخابي موارد: ستاسو د بانکي حسال معلومات (که چېرې تاسو غواړئ خپل تادیاتمستقیماً خپل بانکي حساب ته د انتقال له لارې ترلاسه کړئ، له دې پرته به تاسو اړ واست چې د چک له لارې یې ترلاسه کړئ).

## .4 آیا د ماشوم د مالي اعتبار ترلاسه کولو لپاره ټاکلی وخت شته؟

تاسو کولای شي د GetCTC.org له لارې د خپلو میاشتنیو تادیاتو د ترلاسه کولو لپاره د 2021 کال د نوامبر میاشتې تر 15مې نېټې پورې نوم لیکنه وکړئ. نو پدې توګه په شرائطو برابرې کورنۍ هڅول کېږي ترڅو ژر تر ژره نوم لیکنه وکړي. په وخت سره نوم لیکنه IRS ته لا ډېر فرصت ورکوي ترڅو ستاسو په اړه معلومات پروسېس او میاشتنې تادیات پیل کړي. د پاتې تادیاتو ترلاسه کولو لپاره باید په 2020 کې مالیاتي اظهارنامې تسلیم کړئ.

## .5 آیا که چېرې زه د امریکا متحده ایالاتو تابعیت (U.S Citizenship) و نه لرم، کولای شم د ماشوم مالي امتیازات ترلاسه کړم؟

که چېرې ستاسو ماشوم د ټولنیز امنیت شمېره (SSN) لري، کولای شئ د ماشوم د مالي امتیازاتو تادیات ترلاسه کړئ. والدین اړ نه دي چې SSN ولري، خو دوی باید د فردي مالیه ورکوونکې تشخیصیه نمبر (ITIN) ولري ترڅو د ماشوم د



# د ماشوم د مالي اعتبار (Child Tax Credit) لپاره عامې احتمالي پوښتنې

مالي امتيازاتو ادعا وکړي. والدين اړتيا نه لري چې SSN ولري، خو هغوی بايد د شخصي ماليه ورکوونکي تشخيصيه نمبر (ITIN) ولري ترڅو د خپلو مستحقو ماشومانو لپاره د مالي امتيازاتو ادعا وکړي. تاسو کولای شئ د يوه فردي ماليه ورکوونکي تشخيصيه نمبر (ITIN) په لرلو سره په GetCTC.org کې ثبت نام وکړئ.

تاسو کولای شئ د ماشوم د مالي امتيازاتو ترلاسه کولو په موخه د ITIN غوښتنه وکړئ. خو تاسو نه شئ کولای د GetCTC.org له هغه فورم يا شکل څخه استفاده وکړئ چې فايل/دوسيه نه لري. د دې په ځای تاسو بايد د ITIN لپاره غوښتنليک او د 2020 کال مالياتي پاڼې ډکې او IRS ته يې يو ځای واستوئ.

6. آيا زه کولای شم د يوه پالونکي يا د ماشوم د نيکه/نيا په حيث چې له ماشوم څخه پالنه کوم، دغه امتيازات ترلاسه کړم؟

هو. تر هغې پورې چې ماشوم 17 کلن يا تر هغې کم وي، ستاسې تر سرپرستۍ لاندې ګڼل کېدای شي، له يو نيم کال څخه زياتې مودې راهيسې له تاسې سره اوسېږي، او خپلې له نيمايي څخه زياتې اړتياوې پخپله نه شي پوره کولای، په دې صورت کې تاسو کولای شئ هغوی لپاره د ماشوم د مالي امتيازاتو ادعا وکړئ.

7. آيا پدې سره به زما نور عامه امتيازات لکه روغتيايي بيمه، د خوړو او تغذيې پروګرام او استوګنيز خدمات اغېزمن شي؟

نه. د ماشوم د مالي اعتبار له مخې تاديات ترلاسه کول د هيڅ يوې کورنۍ د عائداتو په حيث په پام کې نه نيول کېږي. دا به ستاسو په نورو هغو پيسو کې بدلون رامنځ ته نه کړي چې د فدرال حکومت د نورو امتيازاتو له مخې يې ترلاسه کوئ، لکه د بېکارۍ بيمه، Medicaid، SNAP، SSI، SSDI، WIC، Section 8، يا عامه استوګنه.

8. آيا د ماشوم د مالي اعتبار ترلاسه کول به زما د مهاجرت په شرائطو يا ګرين کارت په ترلاسه کولو اغېز وکړي؟

نه. د ماشوم د مالي اعتبار يا نورو هغو مالياتي اعتبارونو ترلاسه کول چې تاسې يې متسحق ياست، به ستاسو د مهاجرت په شرائطو، د ګرين کارت اخيستو ستاسې په وړتيا، يا ستاسو په راتلونکيو مهاجرتي طرحو اغېز و نه کړي. د مالياتي اعتبارونو څخه استفاده کول د امريکا متحده ايالاتو د تابعيت او مهاجرت د خدماتي ادارو لخوا په "عامه مسئوول/Public Charge" تصميم کې په پام کې نه نيول نه ګڼل کېږي.

9. ما سره د خپل ماشوم د مالي اعتبارونو د غوښتنې په برخه کې څوک مرسته کولای شي؟

د ماشوم د مالي اعتبار د تادياتو لپاره د نوم ليکنې يوازينۍ لار د 2020 کال په عائداتو باندې د مالياتو د فورم سره يو ځای د IRS فورم وړاندې کول يا له هغه د IRS له فورم او GetCTC.org څخه د هغه فورم استفاده ده چې دوسيه نه لري.

IRS خلکو ته دا خبرداری ورکوي چې غله کولای شي له دغو تادياتو څخه د يوې شوکې په حيث استفاده وکړي. هغو مجرمينو ته متوجه اوسئ چې له تاسو څخه د تلفون، ايميل، ليکلي پيغام يا حتی د ټولنيزو رسنيو له لارې ستاسو د معلوماتو د تصديق غوښتنه کوي، ترڅو وکولای شي د ماشوم د مالياتي امتيازات غلا کړي.

IRS د ايميل، پيغام يا ټولنيزو شبکو له لارې د شخصي يا مالي معلوماتو د غوښتنې لپاره د ماليه ورکوونکو سره اړيکه نه نيسي.

کله چې خبره د ټيليفوني اړيکو شي، په ياد ولرئ چې IRS مخکې له مخکې ثبت شوي، بېړني يا ګواښوونکي پيغام نه استوي. د مثال په ډول که چېرې تاسو داسې يو غبريز پيغام ترلاسه کوئ چې وايي ستاسو د نيولو حکم صادرېږي، نو پوه شئ چې دا IRS نه دی.